سلیم خان رحمت زی ۲۰۱۲/۰۹/۱۵

# په کندز کې دملکي وګړیو دټول وژنې په اړه دمدني ټولنې

## دهمغږۍ مرکز اعلامیه

د مدني ټولنې دهمغږۍ مرکز په ډیرې خواشینۍ خبر ترلاسه کړ، چې د وړي په ۲ نېټه د سیمه ییزو پولیسو یوه قوماندان او دهغه ترلاس لاندې وسله والو دکندز ولایت دمرکز د کنم په کلي کې ۱۶ تنه عام وګړي ( نارینه ، ښځې اوماشومان ) وژلي اوځوتنه نوریې ټپیان کړي دي.

ویل کیږي، چې دمیرعلم او قوماندان قدیرک په مشرۍ دغې خپلسرې وسله والې ډلې هغه وخت دملکي خلکو په ډله ییزې وژنې لاس پورې کړ، چې دنامعلوموکسانو له خوا د جلیل په نامه د دوی د یوه وژل شوي غړي په جسد یې سترګې ولګېدې.

د سیمه ییزو پولیسو درامنځته کېدلو له خبر سره سم ، یوه جدي اندېښنه چې له خلکو او دمدني ټولنې له بنسټونو سره راپورته شوه ، همدا وه چې که دغه په اصطلاح امنیتي ځواک دپخوانیو غیرمسوولو وسله والو ډلو په څېر په خپله په خپلسرې ملیشه یې او وژونکې ځواک بدل شي ، نو مخه به یې څوک نیسي؟ افغانستان چې دکمزورې قانونواکۍ، اوږدو جګړو او تربګنیو، له سیمه ییزو ، قومي ، ژبینو توپیرونو څخه دبیلابیلو سیاسي لوریوله خوا دناوړه ګټې اخیستنې ترخې تجربې یې ګاللي، دمحلي پولیسو په نامه د دې ډول غیرمسئولو ډلو په بیا جوړېدو او وسلوال کېدو سره د داسې پېښو ویره لا له وړاندې کېدله، چې دکندز د ټولوژنې وروستۍ پېښې دا اندیښنې او ویرې لاپسې زیاتې کړې.

د کندز ولایت دمرکز د کنم دکلي د ټولوژنې پېښې، چې په خپل ډول کې لومړنۍ هغه نه وه، څرګنده کړه، چې که د سیمه ییزو پولیسو او نورو نومونو باندې خورو ورو غیرمسئوولو وسله والو ډلوپه جوړښت باندې له سره کتنه ونه شي دا پېښه به وروستۍ نه وي بلکې داسې نورې زړه بوږنوونکې ظالمانه پېښې به هم رامنځ ته شي.

په همدې لنډه موده کې لیدل شوي ،چې څو ځلې سیمه ییزو او قومي ملیشه یې ځواکونو د دې پرځای، چې دکورنیوچارو وزارت له ادعا سره سم دسیمو امنیت وساتي په خپلسریو وژونکیو ، لوټونکیو او تیري کونکیو قوتونو بدل شوي دي او دهېواد په بېلابېلو سیمو کې یې په بې رحمانه وژنو ، وسله والو غلاوو اوجنسي تېریو لاس پورې کړی ، چې دکنټرول اوبې وسلې کولودلانجې زیان اولګښت یې تر امنیتي ګټو ډیر و.

دغو خپل سرو وسله والو ملېشو څو میاشتې وړاندې دکندز ولایت په قلعه زال ، خان اباد، دشت ارچي او چاردرې ولسوالیو او اقتاش سیمه کې هم ملکي وګړي په نښه کړي او دپولیسو په جامه کې یې د جنایت کوونکو رول تر سره کړی دی.

د مدني ټولنې دهمغږۍ مرکز سره له دې چې دافغانستان دحکومت له خوا دنړیوالې ټولنې په مرسته د واقعاً ملي او مسلکي پولیسو په پیاوړي کېدو او جوړېدو ټینګارکوي، د سیمه ییزو پولیسو په نامه دپخوانیو جنګسالارانو دبیا وسله وال کولو لړۍ یوولس کاله مخکې دورې ته بیا ورګرځېدل بولي، چې که حکومت په دې اړه له سره کتنه ونه کړي نو ژر ده، چې له همدغو غیرمسئوولو وسله والوبه په سیاسي رقابتونوکې کارواخستل شي او پخوانۍ وسله والې ډلې به یې یو د بل پرضد استعمال کړي.

دمدني ټولنې دهمغږۍ مرکز یوازې په هغو امنیتي ځواکونو باور لري چې دقوانینو په چوکاټ کې له ملي نړیوالو نورمونو سره سم رامنځته شي او ځانګړیو ملي ـ دولتي ارګانونو ته مسئول او ځواب ورکوونکي وي . تشکیلات ، مسئولیتونه او صلاحیتونه یې معلوم وي او دجوړیدلو هدف یې هم دخلکو دامنیت ، سر ، عزت او مال ساتنه او دقانون پلي کول وي نه دخلکو وژل او لوټول .

مرکز په زغرده پر حکومت او اړونده ارګانونو غږکوي چې دکندز پېښه په جدي او بېړنۍ توګه وپلټي ، عاملینو( که په هرچا او هر زوروپورې تړاوهم ولري )  ته دې یې جزا ورکړي او ملت ته دې ډاډورکړي چې بیا به هېڅکله او په هېڅ ځای کې  داسې خونړۍ پېښه رامنځته کېدو ته پرې  نه ږدي .

مرکز همدا راز دبشري حقونو دڅارنې په ملي اونړیوالو ادارو او له ټولو افغان مدني فعالینو څخه غواړي ، چې دبشپړې قانونواکۍ دټینګښت  او دټولو خپلسریو، ملیشه یې ځواکونو دلاخونړي کیدو دمخنیوي لپاره خپلې هلې ځلې سره همغږې کړي .

مرکز هغو اندېښنو ته په پام سره، چې په اکثرو مواردو کې د دې ډول پېښو عاملین د لوړپوړو مرکزي او سیمه ییزو چارواکو له ملاتړه برخمن وي، په دې اړه د افغانستان د جمهور رئیس ځانګړې پاملرنه غواړي اوکه داغوښتنې ونه منل شوې، مرکز به د خلکو د ملاتړ لپاره په پراخو اعتراضونو او مدني احتجاجونو لاس پورې کړي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ